(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

شړنګ د سېتار غبرګ د جانان شغ د نښترو غبرګ کې
په سردرو کې رالوی شوی یم سندرو غبرګ کې

ځي راځي غوبرګ ته انګازې مې لا هماغه شانته
کله به پورته شي منګو بغا ګودرو غبرګ کې

څُمان به بیا زلمي کونړ د سیند په غاړه تش کړي
شوګېر وهلي به وېدې شي زورورو غبرګ کې

په شاړو دښتو او درو کې به تېپې پورته شي
سوله به راشي د هوا سپینو کوترو غبرګ کې

شي درې وړې منګوټې به مېکدو په غاړه
ځوانان به وړي خوارۀ خوب وي سترګورو غبرګ کې

کم به نصیب وي یاره ستا د تېپې وار چې راشي
چې ارمانونه په خندا کړم در په درو غبرګ کې
2004/10/19، راین په غاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

دښتې شوې بورې هغه تورې شان کېږدۍ نښته
مینه مې پاتې شوه په دښتو کې کوچۍ نښته

ټوله صحرا د هېبتي انګازو ډکه شوله
رمې شپنو سره پناه شولې شپېلۍ نښته

د ارمانونو غوغا ګډه ده د ویر په کلي
وخت کړو تباه دې زمان په شان چلۍ نښته

زاڼو غړۍ دي اوږدې کړي خدا ېزده چېرې لاړې
د غرو لمنو کې اوس زرکې او سیسۍ نښته

لور د هر چا په لاس کې وینم ځي د ګلو لو ته
غرونو کې هم هغه نښترې او ثېړۍ نښته

ډکه ویاله به کلي منځ کې شنو فصلونو ته تله
چې ښکته پورته پکې تله هغه هیلۍ نښته

،2001/3/8

د راین په غاړه، خپله باغچه کې

